**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# حسن خط

## دوهم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال ۱۳۸۹ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لـــري.
په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منـــع
ده. له سرغړونکو سره قانوني چلند کیږي.

ISBN 978-9936-25-161-8

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# حسن خط

## دوهم ټولگی

**د چاپ کال ۱۳۸۹ هـ. ش.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تد قیق کمېټې

**لیکوالان:**

۱. عزیز الله حسن زاده د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت غړی.
۲. عبدالجلیل آخندزاده د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

**تایید او مطالعه:**

**ملي شورا:**

- د ولسي او مشرانو جرگو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

**د څېړنې او تدقیق کمېټې:**

**د علومو اکاډمي:**

- سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.
- ذکریا ملاتړ د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز علمي غړی.

**د کابل پوهنتون:**

- پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانگې استاد.
- نجیب الله عزیزی د کابل پوهنتون د هنرونو د پوهنځي مرستیال.
- سوسن وردگ د ښوونې او روزنې د کلمبیا پوهنتون څخه.

**پوهنې وزارت:**

۱. سعدالدین شپون د پوهنې وزارت سلاکار.
۲. ډاکټر صدیق الله ویرا د پوهنې وزارت سلاکار.
۳. محمد ظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر.
۴. ژباړونکی: سید انور میچن خیل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
۵. نفیسه پوپلزی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
۶. محمد غالب الله یار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
۷. احمد شفیق برنایار د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.
۸. بلقیس احمدي د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.
۹. فرحتیار د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.

**نگارستان:**

- رحمت الله د میمنه گی نگارستان څخه.
- احمد شاه له آشیانې نگارستان څخه.

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنگي او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټې:**

دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلا کار.
محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

**د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:**

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.
د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی
سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

**کمپوز او ډیزاین:**

**حمیدالله غفاري**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هیواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مودی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم


## لومړی لوست

## په نستعلیق خط کې د مفردو تورو لړۍ

**موخه:** د نی په قلم او یا عادي قلمو باندې د نستعلیق خط د الفبا د تورو د لیکلو ســـره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. کاسه لرونکي توري کوم دي؟

۲ -ولې دالفبا توري دکرسي په خط لیکل کېږي؟



الفبا مشق او تمرین کړئ.

**ښاغلی ښوونکی:** د نستعلیق خط دالفبا توري دکرسي په خط باندې د ټولګي په توره تخته ولیکئ او په کرسي خط باندې د تورو خپل خپل ځایونه زده کوونکو ته ور وښیئ اودښه نی قلـــم ځانګړتیـــاوې زده کوونکوته شرح کړئ.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې دالفبا توري په عادي قلم او یا پنسل باندې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم لوست

## په نستعلیق خط کې د مفردو تورو لړۍ

**موخه:** د الف،ب،ج،د د تورو سره د ب د توري د ترکیب د سم لیکلــو ســره د زده کوونکــو آشناکول.

۱. آیا ویلی شئ چې د با،بت،بح،بد ترکیبونه د قلم په څو حرکتونو لیکل کیږي؟



**فعالیتونه:** پورته ترکیبونه څو څو ځلې د نی په قلم ځانله ځانله تمرین کړئ.

**ښاغلی ښوونکی:** زده کوونکو ته د نی قلمونه جوړ کړي او بیا پورته ترکیبونه د زده کوونکو په کتابچو کې دنمونې په ډول مشق کړئ د نی قلم دحرکتونو او سمو لیکلو په هکله دوي ته معلومات ورکړئ او د زده کوونکو ورځنی کار وارزوئ.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې د نی په قلم د با، بت، بح، بد ترکیبونه تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم لوست

## دالفبا د تورو سره دب د توري ترکیب

**موخه:** د نی په قلم او یا عادي قلمونو باندې د نستعليق خط دالفبا د تورو د لیکلو ســـره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. آیا ویلی شئ چې د با، بت، بح، بد ترکیبونه د قلم په څو حرکتونو لیکل کیږي؟



**فعالیتونه:** پورته ترکیبونه څو څو ځلې د نی په قلم ځانله ځانله تمرین کړئ.

**ښاغلي ښوونکی:** زده کوونکو ته د نی قلمونه جوړ کړي او بیا پورته ترکیبونه د زده کوونکو په کتابچو کې دنمونې په ډول مشق کړئ. د نی قلم دحرکتونو او سمو لیکلو په هکله دوي ته معلومات ورکړئ او د زده کوونکو ورځنی کار وارزوئ.

**کورنی دنده:** زده کوونکي دې د نی په قلم د با، بت، بح، بد ترکیبونه تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلورم لوست

## د (ر، س، ض، ط) د تورو سره دب د توري ترکیبول

**موخه:** د بر، بس، بص، بط د ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. د نی په قلم باندې کولی شئ چې د ب، ت ، ث، ټ توري ولیکئ؟



**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او پورته ترکیبونه دې د نی په قلم تمرین کړي. او بیادې یوه ډله بلې ډلې ته خپل مشقونه ور وښيئ.

> **ښاغلي ښوونکی دې:** د خطاطی دکاغذ په هکله زده کوونکوته پوره معلومات ورکړي همدارنګه دوی ته لارښوونه وکړی چې د ت، ث، ټ ترکیبونه دب د توري د ترکیب سره یو ډول دي خوخانګړتیاوې يې یوازې په ټکو کې دي، دمشوانۍ درنګ دجوړولو طریقه دوی ته ور زده کړئ.

**کورنۍ دنده:** بربس.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلورم لوست

### د(ع،ف،ق،ک) تورو سره د ب د توري ترکيب

**موخه:** د بع، بف، بق، بک د ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

۱. آيا ويلی شئ چې د لاندنيو ترکيبونو څخه کوم يو آسانه دی؟




**فعاليتونه:** زده کوونکي دې د نی د قلم په خوښولو کې پوره پاملرنه وکړي اونظافت هم بايد په پام کې ولري او په ټولګي کې دې بع، بف، بق، بک ترکيب مشق او تمرين کړي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** د زده کوونکو د نی قلمونه ورجوړ کړي او دښه نی قلم په انتخابولو کې ورسره مرسته وکړي.

**کورنی دنده:** بق ، بک

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځم لوست

## د(ل،م، ن، و) تورو سره دب د توري ترکیب

**موخه (هدف):** د بل، بم، بن ، بو د ترکیبونو سره د زده کوونکو بلدیدل.

۱. آیا تر اوسه مو تمرین شوي ترکیبونه په نورو مضمونو کې لیدلي وو؟

۲.دا لوستونه درته څومره په زړه پورې دي؟



**فعالیتونه:** زده کوونکي دې د بل، بم، بن، بو ترکیبونه د نی په قلم تمرین کړي. او هـــم دې دوی په ډلو وویشل شي او پورتنی فعالیت دې په دوی سرته ورسول شي او د ټولګیوالــو تــه دې وښيي.

**ښاغلی ښوونکی:** د زده کوونکو ډله ایز کار وارزوئ او ټولګیوالو ته یې وښیاست.

**کورنۍ دنده:** بل، بن تمرین کړئ


(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## د(هـــ،لا،ی) تورو سره دب د توري ترکيب

**موخه:** د به، بهه، بهـــ، بلا، بی د ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. د لاندنيو ترکيبونو له تمرين څخه موخه شی زده کړي دي؟



**فعاليتونه:** پورتنيو ترکيبونو ته په ځير وګورئ او دغه ترکيبونه په نی قلم تمرين کړئ

**ښاغلی ښوونکی:** په پورته ترکيبونو کې د نی قلم حرکتونه د ټولګي په تـــوره دړه زده کوونکـــو تـــه وروښيئ او هم دکاغذاوقلم دنيولو د طريقې سره دوی آشنا کړئ.

**کورنۍ دنده:** بهـــ ، بلا په پنسل او يا په خودکار قلم تمرين کړئ


(c) ketabton.com: The Digital Library


## اووم لوست

### د الفبا د تورو سره د ج د تورى تركيب

**موخه:** دج د تورى د سمو ليكلو او د الف، ب،ج، د  د تورو د تركيبولـــو ســـره د زده كوونكـــو آشناكول.

۱. آيا دج تورى دپورته تورونه پرته نورو كومو تورو سره تركيب كېږي؟





**فعاليتونه:** پورته تركيبونه دې زده كوونكي د نى په قلم په ټولګي كې تمرين كړي.

**ښاغلى ښوونكى:** زده كوونكو ته څرګنده كړئ چې پورته تركيب د نى د قلم په څو حركتونو ليكـــل كيږي او هم د الف سره د ج د توري تركيب دوى ته ور زده كړئ او دكرسي خط په هكلـــه دوى تـــه معلومات وركړئ. او دوى ته لارښوونه وكړئ چې د ج  د تورى هم ډوله توري لكه ح،خ، ځ،چ دالفبـــا په مركبونو كې يو ډول ليكل كېږي او توپير يې يوازې په ټكو كې دى د هم ډولـــه تـــورو لكـــه د ز، ږ، ژ،ړ،س،ښ،ش،ص،ض، ع،غ او داسي نوروكه څه هم په تلفظ كې فرق دې خو د خطاطى د هنر په ليكلو كې يې كوم توپير نشته توپير يې يوازې د ټكو په ايښودلو كې دى او په راتلونكو لوستلوكې دې خبرې د زده كوونكو پام ور واړوي.

**كورنۍ دنده:** زده كوونكي دې د جا، جب، جج، جد  تركيبونه  په  عادى قلم او يا پـــه پنـــسل وليكي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اتم لوست

### د(ر ، س ، ص، ط) تورو سره د ج د توری ترکیب


**موخه (هدف):** د جر، جس، جص، جط د ترکیبونو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. لاندې خالی ځای ډک کړئ او هم ووایی چې د دې جملی هدف څه دي؟

ولیکي چې شي.




کش شوی ج د ر سره



**فعالیتونه:** پورته ترکیبونه دې زده کوونکي په ټولګي کې د نی په قلم تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** پورتني ترکیبونه د زده کوونکو په کتابچو کې ولیکي او هـــم د ج او س کـــش شوی توري زده کوونکو ته په عملي توګه ولیکي.
د دې کتاب درسونه چې هریو په دوو تورو لیکل شویدي یوازې د نستعلیق خط د زده کړې لپـــاره دي نوره کومه معنی او مفهوم نه لری.

**کورنۍ دنده:** د جر، جس، جص، جط ترکیبونه د نی په قلم تمرین کړئ


(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست

## د(ع، ف، ق ، ک) د تورو سره د ج توري ترکیب

**موخه:** د جع،جف،جق،جک د ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

۱. د لاندنیو ترکیبونو څخه کوم یو کش شوی لیکل کېږي؟



**فعالیتونه:** پورتني ترکیبونه دې زده کوونکي د نی په قلم مشق او تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د ج توري کش شوي ترکیبونه زده کوونکو په توره دړه د ج،ف سره او ج،ک سره دوی ته ولیکئ.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې د جع، جف، جق، جک ترکیبونه مشق او تمرین کړئ


(c) ketabton.com: The Digital Library


## لسم لوست

### د(ل ، م ، ن ، و) تورو سره د ج توري ترکيب

**موخه:** د جل، جم، جن، جو ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. لاندې ترکيبونه کوم يو په کش شوې بڼه ليکل کيږي؟





**فعاليتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او دکش شويو ترکيبونو په هکله دې خبر ې اترې وکړي اوودې وايي چې دپورته ترکيبو څخه کوم په کش شوي شکل ليکل شوي دي. او هم پورته ترکيبونه د نی په قلم تمرين کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د پورته ترکيبونو څخه هريو چې کش شوی ليکل کيږي مخکې له تمرين څخه د زده کوونکو سره مرسته وکړئ او هغه په توره تخته وليکئ.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې د جل،جم،جن،جو ترکيبونه په عادي قلم او يا پنسل بانـدې تمرين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوولسم لوست

### د(هــ ، لا،ی) سره د ج توري ترکيب

**موخه:** د جه، جهـــ، جهه، جلا ، جي ترکيبونو سره د زده کوونکو بلدتيا.

۱. دتمرين په وخت کې کوم ترکيب ستاسو په فکر ستونزمن دي؟

۲.هغه ترکيبونه چې مشکل دي په دې هکله دکومو کسانو څخه مرسته غواړئ؟





**فعاليتونه:** پورتني اوکش شوی ترکيبونه د نی په قلم په ټولګي کې تمرين کړئ.

**ښاغلی ښوونکی دې:** پورته ترکيبونه د زده کوونکو د سرمشق په کتابچو کې وليکي

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې په عادي قلم او يا پسل دکرسي په خط باندې مشق او تمرين وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم لوست

### د(الف،ب،ج،د،ر) تورو سره دس توري ترکیب


**موخه:** د سا ، سب، سبج، سد، سر ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول

۱. دحسن خط مضمون مو ولی خوښیږي؟





کش شوی س د د سره



کش شوی س د د سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په ټولګي کې په نی قلم تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** دس توري کش شوی حالت د زده کوونکو په کتابچو کې ولیکي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په کړ کي قلم، خودکار قلم او یا پنسل باندې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دیارلسم لوست

## د(س،ص،ط،ع) تورو سره د س د توري ترکیبول

**موخه:** د سس، سص، سط، سع ترکیبونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

۱. تاسې پخپله کورنۍ کې څوک د خط ښکلا ته هڅوي؟





د س کش شوی حالت د س سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ټولګي کې پورتني ترکیبونه د نی په قلم تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته وښيي او هم دس توری کش شوی ډول دوی ته په توره تخته ولیکي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه د نی په قلم، خودکار قلم او یا پنسل باندې تمرین کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خوارلسم لوست

## د(ف، ق، ک، ل، م) تورو سره د س د توري ترکیب

**موخه:** د سف، سق، سک، سل، سم ترکیبونو سره د زده کوونکو اشنايي .

۱. ښه کاغذ څرنګه پېژنئ ؟

۲.د خطاطۍ لپاره له کوم ډول کاغذ څخه ګټه اخېستل په زړه پورې دي؟



**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د نی په قلم دې پورته ترکیبونـــه ولیکـــي او بیادې هره ډله خپل کار ټولیګوالوته وښیي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته ور زده کړي او هم دپورته ترکیبو کش شوی حالت دې دوی په کتابچو کې ولیکي .

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورته ترکیبونه مشق او تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځلسم لوست

## د(ن، و، هـــ، لا، ي) د تورو سره د س د توري ترکيب

**موخه:** د سن، سو،سه،سلا،سي ترکيبو د ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. تر اوسه مو خط څومره ښکلی شوی دی؟

۲. دسترګو او کاغذ ترمينځ واټن باندې پوهېږئ؟



**فعاليتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه په نی قلم مشق او تمرين کړي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** د ن، هـــ، لا، ي تورو سره د س ترکيب د زده کوونکو په کتابچو کې وليکي.

**کورنۍ دنده:** پورتني ترکيبونه دې زده کوونکي د نی په قلم، خودکار قلم آويا پنسل باندې تمرين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## شپاړسم لوست

### د(الف، ب، ج، د ، ر) تورو سره دص توري ترکیب

**موخه:** د صا، صب، صح، صد، صر ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشناکول.

۱. د لاندنیو ترکیبونو څخه کوم یو ښکلی لیکلئ شئ؟






کش شوي ص د د سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دي د نی په قلم پورتني ترکیبونه په ټولګي کې تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** دص توري کش شوي حالت د د، ر تورو سره زده کوونکو ته په توره تخته مـــشق کړي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه د نی په قلم، خود کار قلم او یا پنـــسل بانـــدې مشق او تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوولسم لوست

### د(س، ص، ط، ع، ف) د تورو سره د (ص) د توري ترکیب

**موخه:** د صس، صص، صط، صع، صف  ترکیبونو سره د زده کوونکو بلدیدل.

د لاندنیو ترکیبو لیکل مو خوښیږي؟



**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په ټولګي کې د نی په قلم تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** د نی  قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښيي.

**کورنۍ دنده:** زده  کوونکي دې پورتني ترکیبونه  په نی قلم، خودکار قلم او یا پنسل باندې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اتلسم لوست

### د(ق،ک،ل،م،ن) تورو سره د ص د توري ترکیب

**موخه:** د صق،صک،صل،صم،صن د ترکیبو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. خلک ولې د ښکلي خط خاوند خوښوي؟

۲. کله مو د خطاطۍ نندارتون لیدلی دئ؟




**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په نی قلم په ټولګي کې تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** دنی قلم حرکتونه زده کوونکو ته ورروښیاست او هم د ل اوم تورو سره دص توري کش شوی حالت دوی ته ولیکي او ور زده یې کړي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورته ترکیبونه په نی قلم، خود کارقلم او یا پنسل باندې تمـــرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نولسم لوست


### د(و،هـــ،لا، ي ) د تورو سره د ص د توري ترکيب


**موخه:** د صو، صهـــ، صلا، صی د ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

١. د ص توري د ترکيبو د زده کولو وروسته څه احساس کوی؟

٢. تر اوسه مو خپل خط چاته ور ښکاره کړي دی او څرنګه يې ارزولی دي؟







د(ی،لا) تورو سره دص
کش شوي حالت

**فعاليتونه:** کله چې زده کوونکي پورتني ترکيبونه په نی قلم وليکي نو بيا دې هغه يو بـــل تـــه وښيي او د ښوونکي له نظره يې تير کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښيي او هم دکش شوی ص تـــوری د ه،و،لا اوی سره دوی ته وليکی.

**کورنۍ دنده:** پورتني ترکيبونه دې زده کوونکي د نی په قلم،خودکار قلم اوپنسل تمرين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست


## د(الف، ب، ج، د،ر) تورو سره د ط د توري ترکيب


**موخه:** د طا، طب، طج، طد، طر  د ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو بلديدل.

۱.  ستاسی ښوونکی ستاسی دليک دښکلا ځخه خوښيږي. دده دخوښئ په صورت کې تاسې تــه څه احساس پيداکيږي؟

۲.آيا د هتيو سرلوحي مو کله ليدلی دي دښه او خراب خط توپير کولی شئ؟



دط کش شوي حالت د (ر) سره

دط کش شوي حالت د (د) سره

**فعاليتونه:** کله مو چې پورته ترکيبونه تمرين کړل نوبيا هغه د ټولګي په ديوال په منظم ډول دننداريې لپاره وځړوئ.

| |
|---|
| **ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښيي او د ط توري کش شوی حالت د  الف، د،ر  توروسره ورته وليکي. |

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه په نی قلم، خودکار قلم او يا پنسل باندې مـــشق اوتمرين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# يوويشتم لوست

## د(س،ص، ع،ف) تورو سره د ط د توري ترکيب

**موخه:** د طس، طص،طط،طع،طف  سره د زده کوونکو آشنايي.

۱. دحسن خط مضمون دنورو مضمونو سره څه اړيکه لري؟

۲. د خطاطۍ وسايل څه ډول ساتئ ؟




**فعاليتونه:** زده کوونکي دې په ګروپو ووېشل شي دکاسه لرونکو  دايروي  تورو په هکلـــه دې خبرې وکړي او د هرې ډلې يو تن دې د ټولګي مخې ته راشي او خپلـــې نظريـــې دې ووايـــي . اوبيادې پورتني ترکيبونه په ټولګي کې تمرين کړي.

**ښاغلى ښوونکی:** دې د نی قلم دحرکتو په هکله زده کوونکوته پوره پوره معلومات وړاندې کړي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه مشق او تمرين کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه ويشتم لوست

### د(ق، ک، ل، م، ن) د تورو سره د ط د توري ترکيب

**موخه:** د طق، طک، طل، طم، طن ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

د خط د ليکلو په وخت کې خپل پاکوالي ته پام کوئ؟




**فعاليتونه:** زده کوونکي دې پورتني فعاليتونه د نی په قلم مشق او تمرين کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه او د خطاطی د نندارتون په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

**کورنی دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه تمرين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## درويشتم لوست

### د(و،هــ،لا،ی) تورو سره د ط د توري ترکيب

**موخه:** د طو،طه،طلا،طی د ترکيبو د ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱. د دې لپاره چې ستاسې مشوانۍ فرش چټل نه کړي څه بايد وکړئ؟

۲. د ښکلي خط په ليدو سره تاسې ته څه احسساس پيداکيږي؟




دط کش شوي

حالت د (لا) سره




**فعاليتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه تمرين کړي او د خطاطي کولو څخه وروسته خپل قلمونه پاک کړئ.

> **ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم دحرکتونو په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي او هم د ط توري کش شوی حالت د دوی ته وليکي .

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورته ترکيبونه په نی قلم، خودکار قلم او يا پنسل باندې تمــــرين کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورويشتم لوست

### د(الف،ب،ج،د،ر) تورو سره دع توری ترکيب

**موخه:** د عا،عب،عج،عد،عر  د ترکيبو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱.  ښه نی قلم څنګه پيژنئ ؟



دع کش شوي حالت

د (د) سره

**فعاليتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د نی قلم په هکله دې خبرې وکړي او دهرې ډلې استازي  دې د ټولګي مخې ته راشي او خپلې نظريې دې ووايي. او بيادې پورتني ترکيبونه پـــه نی قلم تمرين کړي.

| |
|---|
| **ښاغلي ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښيي او دع د تـــوري کـــش شـــوي حالـــت د الف،د،ر  تورو سره دوی ته وليکي. |

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه په نی قلم، خودکار قلم او يا پنسل باندې مـــشق کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست

## د(س،ص،ط، ع،ف) توروسره دع توري ترکیب

**موخه:** د عس،عص،عط،عع،عف  ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

تر اوسه پورې دښکلي لیکلو له پاره هڅول شوي یاست؟



**دع کش شوي حالت**

**د (س) سره**

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورته ترکیبونه په نی قلم مشق اوتمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه د زده کوونکو پام ور واړوي او هم دع توري کش شوې  حالت دس د توري سره  دوی ته ولیکي.

**کورنۍ دنده:** زده  کوونکي دې پورتني ترکیبونه په نی قلم ، خودکار قلم او یا پنسل باندې تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## شپږ ویشتم لوست


### د(ق،ک،ل،م،ن) تورو سره د ع توري ترکیب

**موخه:** د عق،عک،عل،عم،عن ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو بلدیدل.

څو ډوله خط پیژنئ نوم یې واخلئ ؟







**دع کش شوې حالت**

**د(و) سره**

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبوته په نی قلم تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم دحرکتو په اړه معلومات وړاندې کړي او هم د خط په ډولو باندې دوی ته وغږیږي .

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په نی قلم، خودکار قلم او یا پنسل باندې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه ویشتم لوست

## د(و،هـــ،لا،ي) تورو سره دع توري ترکيب

**موخه:** د عو، عه، علا، عي  ترکيبونو د ليکلو سره د زده کوونکو بلديدل.


۱ -خوشحاله ياست چې دع توري ترکيبونه مو زده کړل؟

۲ -آيا دع د توري دبني بدلونونه په لاندې ترکيبونو سره ويلی شي؟



دع کش شوې حالت

د(لا) سره





دع کش شوې حالت

دچپه (ي) سره

**فعاليتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه په نی قلم په تولګي کې مشق او تمرين کړي.

> **ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته ورو ښيي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې په نی قلم، خودکار او يا پنسل باندې پورتني ترکيبونه تمرين کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## اته ویشتم لوست

### د(الف،ب، ج،د،ر) تورو سره دف توري ترکیب

**موخه:** د فا،فب،فج،فد،فر  ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

ستاسې په نظر دف توري په ترکیبونو کې کوم يو آسانه دی؟









دف کش شوې حالت دالف او (ر)سره

دف کش شوې حالت د(د) سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په نی قلم پورتني ترکیبونه مشق اوتمرین کړي.

> **ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه د زده کوونکو پام ور واړوي او دف توري کش شوې حالت د الف،د،ر  سره د ټولګي په توره تخته دوی ته ولیکي او دوی وهڅوي چې د تورو دکش کولو په وخت کې پوره پاملرنه وکړي.

**کورنۍ دنده:** پورتني ترکیبونه دې زده کوونکي په نی قلم، خودکارقلم  او يا پنسل تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهه ویشتم لوست

### د(س،ص،ط، ع،ف) توروسره د ف توري ترکیب

**موخه (هدف)** : د فس،فص،فط، فع ،فف ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

دکرسي د خط په هکله په څه پوهېږئ؟







**دف کش شوي**

**حالت د(س) سره**

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په نی قلم په ټولګي کې مشق اوتمرین کړي.

> **ښاغلی ښوونکی دې:** د نی قلم حرکتونه د زده کوونکو پام ور واړوي اود ف توري کش شوی حالت د س توري سره دوی ته ور زده کړي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په نی قلم، خودکارقلم او پاپنسل تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ديرشم لوست


## د(ق،ک،ل،م،ن) تورو سره دف توري ترکيب

**موخه:** د فق،فک،فم،فن ترکيبود ليکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

دښکلی خط دليدونه وروسته څه احساس درته پيداکيږي؟







دف کش شوي

حالت دم سره

**فعاليتونه:**زده کوونکي دې د کرسي په خط باندې پورتني ترکيبونه په ټولګي کې مشق او تمرين کړي.

> **ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه دکرسي په خط باندې زده کوونکو ته ورو ښيي او دف کش شوې حالت د ک اوم تورو سره دوی ته ور زده کړئ.

**کورنی دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه په نی قلم، خودکارقلم او يا پنسل باندې تمرين کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوديرشم لوست

## د(و،هـــ،لا،ي) تورو سره دف توري ترکيب

**موخه:** د فو، فه،فلا، في  ترکيبو  د ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

ستاسې دکوم ټولګيوال دنوم په سرکی دف توری راځي ؟



| دف کش شوې حالت د سره | دف کش شوې حالت د ی سره |
| --- | --- |

**فعاليتونه:** زده کوونکي دې پورتني ترکيبونه د کرسي په خط باندې په نی قلم تمرين کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** دف توري کش شوې حالت او حرکتونه يې د ه،لا  تورو سره زده کوونکو ته ور زده کړي.

**کورنی دنده:** پورتني ترکيبونه دې زده کوونکي دکرسي په خط باندې په نی قلم خودکار قلم او يا پنسل تمرين کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوه دیرشم لوست

## د(الف،ب،ج،د،ر) تورو سره د ک توري ترکیب

**موخه:** د کا،کب،کج،کد،کر ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنایي.

ولې د خط لیکل درته په زړه پوري دي؟





د ف کش شوي

حالت د سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ټولګي کې د کرسي په خط پورتني ترکیبونه تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** پورتني ترکیبونه د کرسي په خط باندې زده کوونکوته د قلم د حرکتو سره ولیکی.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه د کرسي په خط تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## دری دیرشم لوست

### د(س،ص،ط، ع،ف) تورو سره دک توري ترکیب

**موخه:** د کس، کص، کط، کع، کف ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

آیا کولی شئ چې لاندې ترکیبونه د کرسي په خط ولیکئ؟




**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په نی قلم د کرسي په خط پورتني ترکیبونه مشق او تمرین کړي.

> **ښاغلی ښوونکی:** پورتني ترکیبونه د کرسي په خط د ټولګي په توره تخته ولیکي او هم د قلم دحرکتونو په هکله دوی ته معلومات وړاندې کړي.

**کورنی دنده:** پورتني ترکیبونه دې زده کوونکي د کرسي په خط په نی قلم، خودکار قلم او یا پنسل تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## څلور دیرشم لوست

## د(ق، ک، ل، م، ن) تورو سره دک توري ترکیب

**موخه (هدف) :** د کق، کک،کل،کم،کن ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنايي.

د نستعلیق خط د ترکیبونو د لیکلو په وخت کې څه احساس کوئ؟







**فعالیتونه:** زده کوونکي دې د کرسي په خط باندې پورتني ترکیبونه مشق کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** د نی قلم حرکتونه زده کوونکو ته وروښیئ.


**کورنی دنده:** پورتني ترکیبونه دې زده کوونکي په نی قلم، خودکارقلم او یا پنسل باندې مـــشق او تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه دیرشم لوست

## د(و، هـــ ، لا، ی) تورو سره دک توری ترکیب

**موخه:** د کو،که،کهـــ، کلا، کی  ترکیبونو سره د زده کوونکو آشنا کول.
د مشق دکتابچې دنظافت په برخه کې کوښښ کوئ؟



**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ګروپونو وویشل او دکش شوي تورو اوترکیبونو په هکلـــه دې خبرې وکړي او دوی دې پورتني ترکیبونه په نی قلم د کرسي په خط تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** پورتني ترکیبونه د کرسي په خط زده کوونکو ته ولیکي.

**کورنی دنده:** زده کوونکي دې د کرسي په خط پورتني ترکیبونه تمرین کړي او ټولګي تـــه دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## شپږ دیرشم لوست

### د(الف،ب،ج،د،ر) تورو سره د (م) توری ترکیب

**موخه:** د ما، مب، مج، مد، مر  د ترکیبو سره د زده کوونکو  بلدتیا.

د خط د لیکلو په وخت کې څه احساس کوئ؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې د کرسي په خط پورتني ترکیبونه تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** پورتني ترکیبونه د کرسي په خط د ټولګي په توره تخته ولیکي او پورتنی فعالیت په دوي باندې سرته ورسوئ.

**کورنی دنده:** پورتني ترکیبونه دې زده کوونکي په نی قلم، خودکار قلم او یا پنسل تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوه ديرشم لوست

### د(س،ص،ط،ع) تورو سره دم د توری ترکیب

**موخه:** د مس،مص،مط،مع ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

د مشق مشوانۍ څه ډول تیاروئ؟





دم کش شوي حالت

د س سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ګروپونو وویشل شي او د مشق دمشوانۍ په هکلــه دې خبــرې وکړي او خپل معلومات دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي . او پورتني ترکیبونه د کرسي پــه خــط ولیکي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** پورتني ترکیبونه د کرسي په خط د ټولګي په توره تخته دوی ته ولیکي او هم دم توری کش شوي حالت د س توري سره زده کوونکو ته ولیکي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورتني ترکیبونه په نی قلم، خودکارقلم او یا په پنسل تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اته دیرشم لوست

### د(ف،ق،ک،ل) تورو سره دم توري ترکیب

**موخه:** د مف،مق،مک،مل ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱ -د کرسي د خط په هکله څه پوهیږئ ووائی؟

۲ -د نی قلم په سم نیولو که پوهیدلی یاست ویې وائی؟







دم کش شوي حالت
د ک سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د کرسي خط په هکله دې خبرې وکړي او خپلې نظر یې دې د ټولګیوالو په وړاندې وواېي او هم دې په نی قلم پورتني ترکیبونه په ټولګي کې تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** پورتني ترکیبونه د ټولګي په توره تخته زده کوونکو ته ولیکي او د م توري کش شوی حالت د ف،ک تورو سره د دوی په کتابچو کې مشق کړي.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې پورته ترکیبونه په نی قلم، خودکار قلم او یا په پنسل تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهه دیرشم لوست

### د(م، ن، و هــ، لا، ی) تورو سره دم توري ترکیب

**موخه (هدف)** :د مم،من،مو، مه، مهـــ، ملا، مي ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

دکاغذ دنیولو طریقه بیان کړي؟



**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي دکاغذ د سم نیولو په هکله دې خبرې وکــړي او وروسته دې دوی خپلې نظریې خپلو ټولګیوالو ته ووایي، بیادې پورته ترکیبونـــه د مـــشق پـــه کتابچه کې تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** پورتني ترکیبونه د ټولګي په توره تخته د کرسي په خط مشق کړي.

**کورنۍ دنده:** پورته ترکیبونه د کرسي په خط مشق او تمرین کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## خلویښتم لوست

### د(الف،ب،ج،د،ر) تورو سره دهـــ توري ترکیب

**موخه:** د ها،هب،هج،هد،هر ترکیبو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

ولې د کرسي په خط باندې لیکل کوئ؟





دهـــ کش شوي

حالت د (د) سره

**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وویشل او د کرسي د خط په اغیزو دې خبرې وکړي او بیا دې پورته ترکیبونه د نی په قلم د مشق په کتابچو کې تمرین کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** پورتني ترکیبونه د کرسي په خط د ټولګي په توره تخته دوی ته ولیکي او هم دهـــــ توري کش شوي حالت دنورو تورو سره ور زده کړي.

**کورنی دنده:** پورته ترکیبونه په نی قلم، خود کار قلم او یا پنسل باندې تمرین کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوځلویښتم لوست

### د(س، ص، ط، ع) تورو سره د هـــ توري ترکیب

**موخه:** د هس،هص، هط، هع ترکیبو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنایي.

آیا ویلی شئ چې په پورته تورو کې څو کاسه لرونکي دي؟





**دهـــ کش شوې**
**حالت د (س) سره**

**فعالیتونه:** پورته ترکیبونه دې زده کوونکي په نی قلم د مشق په کتابچو کې تمرین کړي.

> **ښاغلی ښوونکی دې:** پورته ترکیبونه د کرسي په خط د ټولګي په توره تخته مشق کړي اوبیـــا د هـــــ توري کش شوی حالت د س توري سره زده کوونکو ته ولیکي.

**کورنۍ دنده:** پورته ترکیبونه د کرسي په خط په نی قلم، خودکار قلم او یا پنسل باندې تمـــرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوه څلویښتم لوست


## د(ف، ق، ک ،ل) تورو سره دهــ توري ترکیب

**موخه:** د هف، هق، هک، هل ترکیبونو د لیکلو سره د زده کوونکو آشنا کول.

۱ - د ښه نی قلم ځانګړتیاوې په ګوته کړئ؟

۲ - آیا تاسې د خطاطۍ کورسونه لیدلی دي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په نی قلم په ټولګي کې پورته ترکیبونه تمرین کړي او یو بل ته دې يې وښيي.

**ښاغلی ښوونکی دې:** د هــ توری په هکله چې څو ډوله لیکل کیږي معلومـــات ورکـــړي او پورتـــه ترکیبونه د ټولګي په توره تخته زده کوونکو ته مشق کړئ


**کورنۍ دنده:** پورته ترکیبونه دې زده کوونکي په نی قلم، خودکار قلم او یا پنسل تمرین کړي.


## درې څلويښتم لوست

### د(م،ن،و،هـــ،لا،ی) تورو سره دهـــ توري ترکيب

**موخه:** د هم،هن،هو،هلا،هی  ترکيبو د ليکلو سره د زده کوونکو بلديدل.

داچې تاسې د نستعليق خط ترکيبونه  زده کړل څه احساس کوئ؟




**فعاليتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او دښه نی قلم دځانګړتياوو په اړه دې خبـــرې اترې وکړي او پورته ترکيبونه دې په نی قلم مشق اوتمرين کړي.

**ښاغلی ښوونکی:** داچې ستاسې زده کوونکود نستعليق خط زده کړی دی تاسې دخپل احساس پـــه اړه دوی ته معلومات ورکړئ او دکش شوی هـــ ترکيب دالفبا د تورو سره دوی ته بيان کړئ.

**کورنۍ دنده:** پورته ترکيبونه په نی قلم، خودکار قلم او يا پنسل تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورڅلویښتم لوست

## د پښتو ژبې څلور ځانګړي توري

## ټ، څ، ځ، ډ

**موخه:** د ټ، څ، ځ، ډ  د تورو د لیکلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

۱ -دټ اوت ترمنځ اوڅ، ځ اوح ترمنځ څه توپیرووینئ؟

۲ -دډال او دال د توري ترمنځ څه توپیر وینئ؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د پښتو ژبې په څلور ځانګړو تورو دې خبرې وکړي د نورو همډوله تورو سره دې توپیر راپه ګوته کړي. همدارنګه پاسني توري د نی په قلـــم تمرین کړئ.

**ښاغلی ښوونکی دې:** د پښتو ژبې ځانګړي توري زده کوونکو ته ور وپيژني. تاسې پوهیږئ چـــې د ټ توری د ت د توري په شان او د څ اوځ توري دح توري په شان او د ډ توری د دال توری په شان لیکـــل کیږي.

**کورنۍ دنده:** پاس توري په نی قلم او یا پنسل تمرین کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه څلویښتم لوست

## د ړ، ږ، ښ، ڼ د پښتو ژبې څلور ځانګړي توري

**موخه:** د ړ،ږ،ښ،ڼ تورو سره د زده کوونکو بلدتیا.

۱ - د ړ،ږ   توري د  ر  د توري سره څه توپیر لري؟

۲ - د ښ توری د س د توري سره او ڼ توری د ن د توري سره څه توپیر لري؟





**فعالیتونه:** ګرانو زده کوونکو دا توري د هم ډوله تورو په شان لیکل کیږي، تاسې پورته تـــوري په نی قلم مشق او تمرین کړئ

**ښاغلی ښوونکی:** د پښتو ځانګړي توري چې په ټکو او یا پنډک سره د نورو هم ډوله تورو سره تـــوپیر لري زده کوونکو ته ور وپیژنئ او هڅه وکړی چې دا توري د نورو هم رنګه تورو په شان تدریس کړئ

**کورنۍ دنده:** د پورته تورو کش شوي حالت د نورو تورو سره تمرین کړي.

# د نستعلیق خط د تورو جدول

| مفرد توري | لومړني توري | منځني توري | اخیري توري |
|---|---|---|---|
| ا | | | ـا |
| ب | بـ | ـبـ | ـب |
| ج | جـ | ـجـ | ـج |
| د | | | ـد |
| ر | | | ـر |
| س | سـ | ـسـ | ـس |
| ص | صـ | ـصـ | ـص |
| ط | | ـطـ | ـط |
| ع | عـ | ـعـ | ـع |
| ف | فـ | ـفـ | ـف |
| ق | قـ | ـقـ | ـق |
| ک | کـ | ـکـ | ـک |
| ل | لـ | ـلـ | ـل |
| م | مـ | ـمـ | ـم |
| ن | نـ | ـنـ | ـن |
| و | | | ـو |
| ه | هـ | ـهـ | ـه |
| ی ے | یـ | ـیـ | ـی ـے |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نسخ خط د تورو جدول

| مفرد توري | لومړني توري | منځني توري | اخیري توري |
|---|---|---|---|
| ا | | | ـا |
| ب | بـ بـ بـ | ـبـ ـبـ ـبـ | ـب |
| ج | جـ جـ جـ | ـجـ ـجـ ـجـ | ـج |
| د | | | ـد |
| ر | | | ـر |
| س س | سـ سـ سـ | ـسـ ـسـ ـسـ | ـس ـس |
| ص ص | صـ صـ صـ | ـصـ ـصـ ـصـ | ـص ـص |
| ط | طـ طـ | ـطـ ـطـ | ـط |
| ع | عـ عـ عـ | ـعـ ـعـ ـعـ | ـع |
| ف | فـ فـ فـ | ـفـ ـفـ ـفـ | ـف |
| ق ق | قـ قـ قـ | ـقـ ـقـ ـقـ | ـق ـق |
| ك | كـ كـ كـ | ـكـ ـكـ ـكـ | ـك ـك |
| ل | لـ لـ لـ | ـلـ ـلـ ـلـ | ـل |
| م | مـ مـ مـ | ـمـ ـمـ ـمـ | ـم |
| ن ن | نـ نـ نـ | ـنـ ـنـ ـنـ | ـن ـن |
| و | | | ـو |
| ه | هـ هـ هـ | ـهـ ـهـ ـهـ | ـه ـه |
| ی ے | يـ يـ يـ | | ـی ـے |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**